عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۲/۲۸

# د افغانژغورني د فرهنګي نهضت په بهیر کې بل ګام

زه د خپلو رضاکاره ملګرو د هڅو منته کوم، چې د نهضت لپاره یې لومړنی اړیکوال سکرتریت (دارالإنشاء) جوړه کړه.

له ټولو هغو دوستانو هم منته، چې لاتراوسه یې له هرې لارې د خپلخوښي ملګرتیا، همکارۍ او د وطن د محرومو لونو او بچو زدکړو او فرهنګي ویښتیا لپاره چمتووالی ښوولی دی.

د دې ستر ملي بهیر (چې خدای دې یې بریالی کړي) په هڅو کې زه یوازې ستاسو یو داسې ملګری یم، چې متخصص او فعال افغانان به مې لاربښوونه کوي، نور نو دا بهیر پر پوهې او پوهنې مینو افغانانو بهیر دی، چې ښایي په خپله یې بریالی کړي.

تر دې روسته ټول دوستان ښایي په لاندې برېښلیکپته (ایمیل ادرس) د نهضت له فعال سکرتریت سره اړیکه ټینګه کړي:

Info.afghanzhghorana@gmail.com

خپل لاندې معلومات هم په جوړ شوي معلوماتي ډیتابیس کې د تنظیم لپاره همدغه برېښلیک ته استولی شئ:

بشپړ نوم،
تحصیلي درجه،
تخصص او د علاقې وړ کاري برخه،
جنسیت،
د استوګنې ځای / هیواد،
برېښلیک (e-mail address)
د ټلیفون شمېره،
د واټسپ شمیره د اړوند هېواد له کوډ سره.

---

ژر به ان شاءالله د کارپوهانو او متخصصانو په ګډون یوه انلاین غونډه، جوړه کړو، چې په هغې کې به د وضعیت، امکاناتو، ظرفیتونو، خنډونو، ستونزو، نیمګړتیاو، حللارو او عملي پیل په اړه بحث وشي او تر هغه روسته به مخ په وړاندې ځو .

نور:

**یاالله**